OCHA

# افغانستان

# ګډ عملیاتي اصول

## په افغانستان کې د اصولي بشري مرستو رسول ډاډمن کول

ګډ عملیاتي اصول (JOPs) د **HCT** لخوا په دسمبر 2019 کې تایید شوي او په اګست 2021 کې بیاکتنه ورته شوې

**موخه او حد:** په افغانستان کې مرستندویه ټولنه چې په بشري غبرګون فعالیتونو کې بوخته ده پدې سره توافق شوي چې دغه ګډ عملیاتي اصول (**JOPs**) به د بشرپالني پالیسیانې او تاسیس شوي کړنې منعکس کوي او د جنګ مختلفو خواوو او نورور برخه اخیستونکو سره د تعامل لپاره کړنلاري رامنځته کوي. ټول بشری فعالین - په شمول د دوه ګونې (بشری او پرمختیایي) ماموریت لرونکې اداري – موړ، خپله، زموږ همکار موسسات ، تهیه کونکې او هر هغه څوک چې د اړوندو برنامو لپاره تړون ورسره کوو څان ددغه مشترک اساسي پیل لپاره مسول ګڼي. دغه ګډ عملیاتي اصول په زیاتېدونکې پیچلې حالت کې په محلي ، ملي او نړیواله کچه د چاروکو او وسله والو ډلو سره دوه اړخیز او ګډو خبرو اترو کې د ښکیلتیا لپاره چوکاټ ترتیبوي.

**اصلي بشردوستانه اصول:** بشرپالنه، بې طرفي، بېپریتوب او عملیاتي خپلواکي د بشري فعالیتونو لپاره اصلي اساسی اصول دي. دغه اصول له نړیوال بشردوستانه قانون، نړیوال بشري حقونو قانون او نورو معیاري اسنادو څخه اخیستل شوي او د چلند د اخلاق اصولو او کاری ماموریت برخه ده چې بشردوستانه ادارو ته لارښوونه کوي.

الف. **اصول** – لاندنۍ اصول بشردوستانه فعالیتونو او بشري فعالینو ته لارښوونه کوي:

1. **بشر پالنه**: په انسانی ستونزو کی اخته ټولو وګړو ته باید څان ورسوی په ځانګړی توګه ډیرو زیان منونکو ډلو لکه ماشومان، ښځی، معلولین، او ډیر عمر خوړلو (زاړو) ته باید زیاته پاملرنه وشی. دزیان منونکو حیثیت او حقوقو ته باید پوره درناوی او ساتنه ېی وشی.
2. **بېطرفي**: بشري فعالین په انفرادي ډول او یا هم د اداري په کچه په جنګونو (منازعاتو) کې برخه نه اخلي او نه هم په سیاست، مذهب او د فکر پر بنیاد شخړو کې طرف نیسی.
3. **بې پریتوب**: بشري مرستې له هر ډول توکمیز، سیاسي، جنډر، قومي، نژادي او مذهبي تعصب پرته چمتو کیږي. بشري مرستې به ټولو اړمنو خلکو ته یوازی د اړتیا په اساس ورکول کیږي.
4. **عملیاتي خپلواکي:** ټولې بشري کړنې باید له هر ډول سیاسي، اقتصادي، نظامي او نورو موخو څخه خپلواکه وي.

**بشري فعالین په عملي ډول له لاندي اصولو سره موافق دي:**

1. **زیان مه رسوئ**: بشري فعالین باید د "زیان مه رسوی" اصل ته وفادار وی او هڅه وکړي چی د مرستی او فعالیت په وخت کی احتمالي زیان را کم کړي.
2. **وقار:** اړمنو خلکو ته باید په فعالیتونو کي د مساوي شریکانو په څېر درناوی وشي او د هغوئ انساني حیث ته په ټولو اړیکو کي په درنه سترګه وکتل شي.
3. **رڼوالی او حساب ورکونه:** بشري فعالین له ټولو اړخونو سره په شفاف ډول چلند کوي او هغوئ ته هم چي دوئ ورسره مرسته کوي حساب ورکوونکي دي.
4. **کلتوري حساسیت:** بشري فعالین د جنډر او برابری په اړه د نړیوالو معیارونو په نظر کی نیولو سره باید ټولو ځایي دودونو، کلتورونو او مذهبونو ته پوره درناوی وکړی.
5. **د ناوړه جنسي ګټه اخیستني او تاوتریخوالي مخنیوی:** بشري فعالین په انفرادي او اداري کچه ژمن دي چي داسي چاپېریال رامنځته او وساتي چي جنسي تاوتریخوالی پکي د زغملو وړ نه وي او همدارنګه په ټولو تعاملاتو کي يې مخنیوی شوی وي.

ب. <u>**کړني:**</u>

<u>**ددې لپاره چي د ژوند ژغورني مرستي او خوندیتوب فعالیتونه د اغېزمنو خلګو لپاره تر سره کړو نو بشري فعالین باید؛**</u>

1. د جګړې له ښکیلو خواوو او اړوندو فعالینو سره ښکیلتیا، له دې ښکېلتیا اصلی موخه اړمنو خلکو ته د مرستي رسولو او د هغوئ د ساتني په منظور د مرستندویه ادارو توانا کول دي.
2. د جګړی په ښکیلو خواوو ړغ کول تر څو بشري اصولو ته درناوی ولری او تقویه یې کړی. همدا راز باید د مرستندویه کارکوونکو او اړمنو خلکو ساتنه ډاډمنه کړي.
3. خپل فعالیتونه له نورو بشردوستانه موسسو سره چي په ورته ساحه کي فعالیت ترسره کوي همغږي او د متقابل همکارئ لپاره وکاروئ ترڅو تجربې سره شریکي، شفافیت تضمین او د برنامو له دوګانګي مو مخنیوی کړی وي.
4. ټولو اغیزمنونکو وګړو ته خوندي ، پر وخت ، په بشري اصولو ولاړ او بې ځنډه لاسرسی ومومئ.
5. د ضرورتونو د تشخیص په خاطر خپلواکه ارزونه ترسره کول تر څو د انسانی مرستو لپاره داسی اړمن مستفیدین په کوته شی چی د معلولیت او جنډر په ګډون د زیان منی د معیارونو په اساس وی.
6. مرسته اخیستونکي خبر او پوهول چي ټوله ورکړل شوې مرسته یوازي ددوئ لپاره ده او دوئ مسولیت نه لري چي د جګړې د طروفونو په شمول ل يې له کوم بل چا سره شریک کړي.
7. د مرسته اخیستونکو فعاله برخه دجواب ورکوني تر ګډ کاري چوکاټ لاندي دارزیابۍ، لومړیتوب ټاکني، پلان جوړوني، تطبیق، څارني اور ارزوني په پروسو کي ډاډمن کول .
8. د څار او ارزوني فعالیتونو ترسره کول، تر څو ټاکل شوو خلګو ته د مرستي رسېدل ډاډمن کړي.

9. لکه څنګه چي د نړیوال بشردوستانه قانون کي ټاکل شوي ، ټولو خلکو ته د اړتیاوو په اساس طبي مرستو رسول، او چېرته چي د تطبیق وړ وي پدې کي په شخړو کي ښکېل اړخونه شامل کېدای شي. "د جنګ زخمیان او هغه چي نورپه جګړه کي فعاله برخه نه اخلي".
10. له نورو بشردوستانه همکاراو موسساتو سره مرسته وکړئ تر څو د ګډ عملیاتي اصولو سره سم فعالیت تر سره کړي، د لاسرسي د خنډونو په اړه شفاف راپور ورکول ډاډمن کړئ چی د تجاربو شریکول هم پکي شامل دي.
11. ددې لپاره چي په اصولو ولاړ او د ښکېلتیا له ستراتیژي سره سم بشري برنامو ته مو لاره هواره کړېوي، تمویلوونکي باخبره وساتئ تر څو له انعطاف منونکو او د جګړې په وړاندي حساس لارو نه کار واخلي.

**<u>بشر دوستانه فعالین به لاندي غوښتنو ته غاړه نه ردي:</u>**

1. د فزیکي او یا اداري تهدید او یا برمته کېدو له وېري د جګړې د ښکېلو اړخونو لخوا د چمتو شوی برنامې اړوند غوښتنو ته غاړه اېښودل.
2. په بشری فعالیتونو کی د کارکوونکو، شریکانو یا قرار دادیانو د ګمارلو په پروسه نفوذ درلودل یا ورته د کارمندانو، شریکانو او پلورونکو په اړه محرم معلومات چمتو کول.
3. د بشر دوستانه پروژو، خدماتو او مرستي رسوني پر سر مالیه، محصول او یا نور مصارف اداکول[ii].
4. په جګړه کي ښکېلو خواوو ته اجازه ورکول چي د بشري امکاناتو لکه ګودامونه، وسایطو، توکو او یا نورو بشري شتمنیو واک په لاس کي واخلي یا وسله والو ته اجازه ورکول چي بشري اسانتیاوی یا موټرو ته ننوځي او یا يې په واک کي واخلي.
5. وسله والو فعالینو او یا په جګړه کي ښکېلو خواوو ته بشري مرستي رسول[iii]
6. د ټولنیزو ځانګړتیاوو له امله ، بشرپاله لاسرسی محدودول، چي جنسیت، سن او توکم پکي شامل دي.
7. د لاسرسی په بدل کی له بهرینو فعالینو سره د ګټه اخیستونکو معلومات شریکول څکه دا کولای شی چي ګټه اخیستونکي له خطر او ځوروني سره مخامخ کړی.
8. د کارمندانو حساس او شخصي مالومات شریکول. د بشري خبرتیا لپاره د کارمندانو په اړه معلومات به یوازي د بشري اصولو او معلوماتو شریکولو پروتوکولو په رڼا کي او د اړوند کارمند په اجازه سره به شریکېږي.
9. د اغېز مننونکو د جبري او غیر محفوظه راستنولو، بیا مېشتولو او ځای په ځای کولو لپاره لاره هوارول.

---

[i] پدي کې د افغانستان حکومت ، دولتي او غیر دولتي وسله والي ډلي او همدارنګه د ټولنې مشران شامل دي.
[ii] په شمول د د جنیوا کنوانسیونونو (1949) ، د سره صلیب بنسټیز اصول (1965) ، د نړیوال سره صلیب او سرې میاشتي حرکت او د پېښنو په وخت کي مرسته کوونکي داخلي موسساتو د چلند اصول (1992) ، د ملګرو ملتونو د عمومي مجلس پریکړې (1991 او 2003) ، د سپېر معیارونه (1999) ، او د اساسي بشري معیار (2015).

[iiii] پدې کې له محلي / ملي بشري فعالانو او اکمالوونکو ادارو سره په خوښه ترسره شوي فرعي تړون شامل دي ترڅو دا مسله واضح کړي.

[iv] څنګه چي په نړیوال بشردوستانه قانون کي د B5 نقطي په اساس ټاکل شوي، طبي مرستي ممکن په خاصو شرایطو کي چمتو شي.
https://www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/document/afghanistan-data-sharing-protocol